آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۴/۱۰

# «عجب مار مې جار وتلی تر دوو پښو دی»

کله چې ما(آصف بهاند) د شپیتمې لسیزې په پیل کې، د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کې د اسیستانت په حیث کار پیل کړ، د هغو مضامینو د تدریس په لړ کې چې زه د اسیستانت په حیث ټولګي ته تللی یم، یو مضمون «خوشال پوهنه» نومیده چې د هغه وخت په درسي نصاب کې د «خوشال پیژندنې» په نامه راجستر و. هغه وخت دا مضمون استاد پوهنوال ډوکتور ګل محمد نورزي تدریساوه، چې په همدې برخه کې تخصصي زدکړې کړې وې. کله چې دی وفات شو، د دې مضمون تدرس په مستقل ډول ما ته وسپارل شو.

ما د اسیستانتی له هماغه پیل نه د خوشال په باب ژوره مطالعه او څیړنه پیل کړه. په هغه وخت کې یې لاسته راوړنې، د «خوشال پیژندنې» له تدریس تر څنګ، زما څو څیړنیزې مقالې وې چې په کابل کې د هغه وخت په مطبوعاتو کې خپرې شوې او ور سره مې د خوشال پیژندنې په برخه کې دوه جلا کتابونه هم ولیکل:

ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو ځانګې درسي کتاب (کستنترچاپ)،
ـ «د خوشحال د کلیاتو نوملیک» چې له څو کلونو کار وروسته تقریبا بشپړ شوی ، خو له بده مرغه چې د ټوپکیانو د بل کړای شوي اور خوراک او د دوی د چای دمولو در ګران شو.

د ټوپکي ناتار له پیل سره ډېره موده قلم چلول او مطالعه ودریده او هر څه سره زه مرور شوم، خو وروسته مې بیا کار پیل کړ او د نورو مسایلو ترڅنګ مې خوشال هم هیر نه کړ، خوا ته مې تل د خوشال د کلیاتو هغه نسخه اېښې وي چې د درانه دوست دانشمند عبدالقیوم مشوانی له خوا برابره او چاپ شوې ده.

د همدې لړۍ په لومړۍ برخه(خوشال پوهنه ۱) کې مې داسې لیکلي وو:

«زه د خوشال پوهنې تر سر لیک لاندې، د خوشال په باب د تیرو لیکل شوو آثارو نه په استفادې سره، د خپلو زدکړو او خپلو تجربو او د خوشال په باب د خپلو مطالعاتو نه په ګټې اخیستې سره غواړم وخت نا وخت د خوشال د شخصیت د بېلابیلو اړخونو په باب کله لنډې، کله اوږدې مقالې ولیکم او کله، کله یې د اړتیا په صورت کې یوه نیمه غزله یا د ځینو قصیدو څو بیتونه له خپل برداشت او یادونو سره درنو لوستونکو ته وړاندې کړم...»

د خوشال پوهنې په دویمه برخه کې د خوشال د بندي کیدو له هغه داستان نه چې ده په خپله د یوې لنډې، خوږُرا قصیدې په قالب کې بیان کړې ده، څو هغه بیتونه تاسو درنو لوستونکو ته را اخلم چې زما داسې خوښیږي، چې کله، کله مې د خوشال د هغه ځت د مجبوریتونو دردونه لا وژړوي.

هغه څو بیتونه دا دي:

زماني لـه ښـو يـارانو نـه مـهجور کـړو
څـه بـلا يـې مبتلا په ډيـر ضـرور کـړم

د بنو اوښکې مـې پـاسـه پـرې تـارونـه
بيلتانـه پـه تـن، پـه مـثل د تـنـور کـړم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

ما وې ترک به سره وچوم له غمونو
ولې لا تر اوسه پایم خدای صبور کړم

نوره واړه پښتونخوا په ځان میشته ده
خو یو زه دې زمانې په کې منصور کړم

اشرف خان په نا پوهۍ په غم کې ونښت
زه د ده غمونو لا پسې رنځور کړم

سل تناکې مې هر آه سره پر زړه شي
په درون یې لکه وړی د انګور کړم

هغه وخت مګر د خدای په وعده راشي
چې به بیا له خیخانې سره سرور کړم

چې مې اوس له لاسه و وتې آسمان شوې
د هغو خبرو څه لره مذکور کړم

که یې درست د متو زور را ته ښکاره کړ
بیا فلک سره کُشتي په خپل دستور کړم

نه به بیا پر غاړه کیږدم د ننګ توره
نه به بیا په قوم کې کینم، نه به هور کړم

عجب مار مې جار وتلی تر دوو پښو دی
مګر لوی پاړو پیدا شي چې یې دور کړم

مست هاتیان خوني زمري په ځنځیر کیږي
بویه دا چې ځان فلک و ته تربور کړم

په خپل آه مې باور شته اثر به وکا
رقیبان به اور لړوني د تنور کړم

پاړو ګان د پیښور واړه ناقص شول
دا یم هند لره روان یم که دور کړم

واړه خلک د خوشال په پټ ولاړ دي
بخته تا له کومه لوریه را حضور کړم

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۴۰۸ مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ